ISSUE 104 JANUARY 2025

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.




Photo Credit: Bilal Guler

# په روغتیایی برخه کې د انجونو د انستیتیوټونو د بندیز په اړه غبرګونونه او پایلې یې

- طبي زده کړو څخه د ښځو منع کول د هیواد روغتیایی سیستم فلج کوي
- د طالبانو نوی حکم افغانستان د فقر، بې سوادۍ او انزوا په لور اړوي
- عکس العمل طالبان باید دغه پریکړه لغوه کړي

Illustrator Credit: CVT

## په روغتیایی برخه کې د انجونو د انستیتیونونو د بندیز په اړه غبرګونونه او پایلې یې

سریزه

د طالبانو مشر هبت‌الله آخندزاده د قوس د میاشتې په ۱۳مه په یوه فرمان کې د نجونو زده کړې په روغتیایي انستیتیوتونو کې بندې اعلان کړې. دا فرمان د نجونو زده کړې د بندیز وروستی اقدام نه دی؛ له دې مخکې هم په جلا جلا فرمانونو کې د نجونو او ښځو زده کړې په پوهنتونونو، ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو کې بندې کړې وې.د طالبانو د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۲۲ د ډسمبر په میاشت کې اعلان وکړ چې ښځې او نجونې نور په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې زده کړې نشي کولای.د طالبانو دا اقدام د نړۍ له سخت غبرګون سره مخ شو، چې نړیوال فشارونه یې پر طالبانو زیات کړل او حکومت یې تر اوسه نړیوال مشروعیت ترلاسه نه کړ. په دې لیکنه کې د هبت‌الله آخندزاده د نوي فرمان په اړه د نړیوالې ټولنې غبرګونونه او پایلې څېړو چې د نجونو زده کړې یې په روغتیایي انستیتیوتونو کې بندې کړې دي.

غبرګونونه

د طالبانو لخوا د نجونو زده کړې بندېدل په روغتیایي انستیتیوتونو کې له کورنیو او نړیوالو سختو غبرګونونو سره مخ شوې دي. د اروپايي اتحادیې دې اقدام ته د بشر اساسي حقونو «وحشتناکه سرغړونه» او د ښځو د زده کړې حق «بې توجیه برید» ویلی دی او له احتمالي پایلو یې اندېښنه څرګنده کړې ده.د بخښنې نړیوال سازمان د طالبانو دا پرېکړه «ظالمانه» او «ورانوونکې» بللې او خبرداری یې ورکړی چې دا به د هغه هېواد لپاره چې د میندو د مړینې لوړه کچه لري، زیان رسوونکې پایلې ولري.دغه سازمان ویلي چې دا بندیز به د ښځو زده کړې وروستۍ دروازې وتړي او د ښځو مړینه به زیاته کړي. د ملګرو ملتونو سازمان هم د ښځو پر زده کړو د بندیز د لغوه کېدو غوښتنه کړې. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر (یوناما) د قوس په ۱۴مه ویلي چې دا بندیز به د افغانستان روغتیایي سیستم ته زیان ورسوي او باید له تطبیقولو یې مخنیوی وشي.د افغانستان لپاره د بشر حقونو ځانګړي راپور ورکوونکي ریچارډ بینټ په خپله اعلامیه کې ویلي چې د طالبانو دې پرېکړې ته حیران دی. د اسلامي همکاریو سازمان هم د طالبانو فرمان د خپلو پرېکړو خلاف ګڼلی او ویلي یې دي چې افغان ښځې له زده کړو څخه د محرومېدو په برخه کې د خپلو اساسي حقونو د نه عملي کېدو شاهدي ورکوي.د دې ترڅنګ، افغان ملي شخصیتونو د طالبانو دا اقدام د افغانستان ملي ګټو خلاف بللی او سخت غندلی دی. د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي ویلي چې افغانستان به هغه وخت پرمختګ وکړي چې د ښځو او نارینه وو لپاره د زده کړې زمینې برابرې شي. محمدحنیف اتمر هم دا پرېکړه د علمي، مذهبي او فرهنګي منطق خلاف بللې ده.ځینې د طالبانو لوړپوړي غړي او د کابینې وزیرانو د دې فرمان پر وړاندې غبرګون ښودلی دی.

**ادامه ...**

پایلې

سید اکبر آغا ویلي چې زده کړه د ټولنې او راتلونکي نسل لپاره اړینه ده، او د دې ستونزې د حل لپاره یې د ملي جرګې جوړولو وړاندیز کړی دی. عبدالسلام ضعیف هم د دې پرېکړې مخالفت کړی او دا یې «خودخواهانه» ګڼلې ده.

په روغتیایي موسسو کې له زده کړو څخه د نجونو منع کول ډېرې منفي اغیزې لري چې له جملې څخه یې لاندې عواقب وي.

۱- د میندو د مړینې زیاتوالی: د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق په ۲۰۲۱ کې راپور ورکړ چې افغانستان په آسیا کې د میندو د مړینې ترټولو لوړه کچه لري، او په هرو ۱۰۰ زره زیږونونو کې ۶۳۸ میندې د زیږون پرمهال ژوند د لاسه ورکوي د ملا هبت الله د نوي فرمان له مخې به د میندو د مړینې کچه څو برابره لوړه شي.

۲- د افغانستان د روغتیایي سیستم فلج: د یو شمیر کارپوهانو په اند د طالبانو د مشرتابه نوی فرمان د افغانستان په روغتیایی سیستم منفی اغیز پرېښی او د فلج کېدو لامل به شی.

۳- له ټولنې څخه د ښځو لرې کول: د دې فرمان بله منفي پایله له ټولنې، دولتي دفترونو او تعلیمي موسسو څخه د ښځو بشپړ ایستل دي.

۴- نړیواله کرکه: د دې فرمان په پلي کولو سره طالبانو د دوی په وړاندې نوره نړیواله کرکه راوپاروله او افغان ولس یې د پخوا په پرتله لا زیاتې غاړې ته وغورځاوه.

۵-د افغان نجونو د خوبونو له منځه وړل: نجونو په دې هیله خپلو زده کړو ته دوام ورکړ چې یوه ورځ به خپل بشري حقونه ولري. رانا چې د کابل په لوېدیځ کې په یوه روغتیایي انستیتوت کې د غاښونو د نساجۍ د دربیم سمستر زده کړې کوي، وایي چې دې امر زموږ ټول خوبونه له منځه یوړل.هیله مې دا وه چې د بل سمستر په تېرولو سره به وکولای شم چې کار پیدا کړم او خپله کورنۍ له بې وزلۍ وژغورم، خو اوس مې د راتلونکي لپاره هیله له لاسه ورکړې ده.محسنه یوه بله نجلۍ ده چې له اوښکو ډکولو وروسته وایي چې ما د کابل په یوه انستیتوت کې په پوره اخیستو زده کړې کولې. د سمستر د ازموینو د پای ته رسیدو په تیاري بوخت وم چې د روغتیایي موسسو د تړل کېدو خواشینی خبر مې واورېد. دا خبر د سړو اوبو په څیر و چې زما په خوبونو کې بهیري.

پایله

د طالبانو نوی فرمان چې په روغتیایي موسسو کې د نجونو له زده کړې منع کوي نه یوازې دا چې د ښځو پر وړاندې محدودیتونه زیاتوي او له بنسټیزو حقونو یې بې برخې کوي؛ بلکې د افغانستان روغتیایي سیستم یې فلج کړی او ښځې او میندې یې د مرګ کندې ته استولې دي. دغه فرمان افغانستان د بې وزلۍ، بې سوادۍ او انزوا پر لور هڅوي او بشري ناورین لا پسې زیاتوي. تمه کیږي چې نړیوال غبرګونونه به د دې حکم د لغوه کیدو لامل شي او طالبان دې ته اړ کړي چې د ښځو په وړاندې د وحشیانه ظلمونو مخه ونیسي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**